واحد فقیری -هاري

واشنگټن، ۲۰۰۸/۱۰/۱۶م

# تر حکومت طالبانو ته ترجیح ور کوو

د کرسچین ساینس مانیټور ورځپاڼه د اکتوبر پر ۱۵ لیکي: ځیني افغانان ترجیح ور کوي چي د طالبانو تر ولکي لاندي ژوند وکي. د لولګر په ولایت کي ځایي خلک د ځینو غلو او داړمارانو څخه ډیر په عذاب وه. د کلي خلک لمړی حکومت ورغلل او د غلو ختمول او راایسارول یې تري وغوښتل. خو حکومت غوږونه کاڼه واچول، او غلو ازادانه تګ راتګ کاوه. لدې څخه وروسته، کلیوال طالبانو ته ورغلل. سمدستي، طالبانو غله ونیول، مخونه یې ور تور کړل، په بازار کي یې وګرځول، او خبرداری یې ورکړ چي که چیري بیا ونیول سي سمدستي به یې لاسونه غوڅ کړي. د هغه وخت راهیسي، بیا غله دې سیمي ته ندي راغلي.

د کابل شاوخوا ولسوالیو او ولایتونو کي، مرکزي حکومت یا خو بیخي ستړه نه، او یا ورو- ورو ورکیږي. په عوض کي، د طالبان جابره مګر موثره حکومت ټینګیږي، او د ځایي خلکو ملاتړ تر لاسه کوي.

د کرسچین ساینس مانیټور اخبار اضافه کوي: د کرزي په حکومت کي بېساری اداري فساد او بدي، په پیخر جنایات، او د بیکارانو زیاتیدونکي لښکري د طالبانو د تقویي لپاره ښه فرصت برابر کړی دی. دغه راز، کابل ته څیرمه د طالبانو قوت او عروج دابنیي چي حکومت کنټرول له لاسه ورکړی دی.

افغان مبصر او مورخ، حبیب الله رفیع، وایي: که څه هم طالبان کابل په زور نه سي نیولای، ځکه دلته خارجي قوه پرته ده، خو حکومت ددې توان نلري چي د ښار څخه بهر د هغوی د فعالیت او تګ راتګ مخه ونیسي.

ځایي خلک وایي: په لولګر کي په هره کورنۍ کي یوه طالب سته. هغوی د ورځي په خپلو پټیو کي په کارونو بوخت وي، خو د شپي ټوپک په لاس د طالبانو په صفوفو کي جنګیږي. د لولګر څلور ولسوالی د طالبانو په ولکه کي دي. هلته، طالبان د ورځي ازادنه ګرځي او حکومت له ډاره ور تلای نه سي. په غزني کي، له ۱۸ ولسوالیو څخه ۱۳ ولسوالی د طالبانو په پوره کنټرول کي دي. دغه راز، د وردګو په ولایت کی، له ۸ ولسوالیو څخه ۶ د طالبانو تر ولکي لاندي دي. پدې سیمو کي، طالبان خپل قاضیان، ولسوالان، او پولیس لري. ځایي خلک وایي: طالبان د شریعت په اساس فیصلې کوي. کارونه ډیر ژر خلاصوي.

پدې سیمو کي، طالبان د مکتبونو نصاب تعلیمي هم ځاري. هغوی غواړي چي په مکتبونو کي اسلامی شریعت تدریس سي. مګر د طالبانو په سیمو کي اکثره مکتوبه تړلي دي. په غزني کي، له ۱۱۰۰ مکتبونو څخه فقط ۱۰۰ فعاله دي، او د نجونو مکتب خو هډو ستړه نه. که څه هم، پدې سیمو کي تیلویزیون ، موسیقي او د ښادۍ محفلونه نسته، خو لړ ترلږه امنیت او عدالت ستړه.

د نیویارک ټایمز ورځپاڼه د اکتوبر پر ۱۵ لیکي: د افغانستان د دفاع وزیر، عبدالرحیم وردک، وایي په عراق کي د امریکا پوځي بریالیتوبونو د القاعدې باتجربه جنګیالي دېته اړ ایستلي دي چي افغانستان ته مخه کړي. هغه په یوه

مطبوعاتي کانفرانس کي وويل همدي بهير په افغانستان کي د امنيت وضع لا خرابه کړ ي ده. هغه زياته کړه چي همدا خارجي جنګيالي تر پخوا ښه وسلي او جنګي مهارتونه لري، بهتره روزنه يي ليدلي ده، او ښه منظم دي.

په افغانستان کي، امريکايي قومندانان وايي: هغه خارجي جنګيالي چي په افغانستان کي فعاليت کوي پاکستاني، عرب، چچين، او د مرکزي اسيا د نورو هيوادونو افراطيان دي. مګر د ياغيانو مطلق اکثريت خپله افغانان دي.

د فاينشل ټايمز ورځپانه د اکتوبر پر ۱۳ ليکي: څه د پاسه دوو سوو طالبانو غوښتل چي د لښکرګاه ښار ونيسي. هغوی له څلورو خواوو څخه د لښکرګاه پر ښار حمله وکړه. پدې جنګ کي وروسته له درنو بمباريو او جګړو څخه قريب ۶۰ تنه طالبان مړه او ۳۰ تنه نور تيپيان سول.

په لښکرګاه کی، د مرستنديو موسساتو کارکونکي وايي ياغيانو د ګورنر د کور په شمول پر نورو دولتي ودانيو باندي راکټونه واورول. مګر د هلمند والي، ګلاب منګل، دا خبره ردوي او وايي ياغيانو فقط غوښتل چي د بين المللي مطبوعاتو توجه جلبه کړي. هغه زياته کړه اکثره ياغيان له پاکستان څخه ور اوښتي وه.

امنيتي څارونکي وايي پر لښکر ګاه باندي د حکومت کنټرول ډېر کمزوری دی، او د شپې لخوا اکثره سيمي د ياغيانو تر ولکي لاندي وي. دغه راز، ويل کيږي چي د هلمند د پخواني والي، شير محمد اخوندزاده، پلويان هم پدې اخ و ډب کي برخه لري. شير محمد اخوندزاده په هلمند کی زيات نفوذ لري او ښاغلی کرزی غواړي چي هغه يو ځل بيا د هلمند ګورنر سي.

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de